**نولسم پودکاست**

## تمدني پانګه «دویمه برخه»

داود جنبش: السلام علیکم.

د پرله پسې پودکاستونو په دې لړۍ کې له ولسمشر محمد اشرف غني سره نن هم د تمدني پانګې په ځینو اړخونو غږېږو. وروسته به په افغانستان کې د بشري پانګې پېژندلو او سپړلو ته ور تېر شوو.

این سلسله برنامه‌ها را با من داود جنبش دنبال کنید.

استاده تاسې ته هم د درناویو په وړاندې کولو، د خپرونې دې ګڼې ته هرکلی وایم، ستړي مه شئ.

دوکتور غني : بسم الله الرحمن الرحیم، ډېره مننه، زما تاوده سلامونه ټولو وطنوالو ته، خویندو او ورونو ته.

داود جنبش: مننه استاده، ژوندي اوسئ. په پیل کې د تېرې ګڼې د شخصیتونو د ځانګړتیاو او مفکورو د څېړنې بحث لړ نور هم دلته غځوو او غواړم بیا یې تر خپل هیواده را ورسوو. د لومړنیو پېړیو په لویو متفکرینو کې چې اوس یې ډېرئ افغانان د نړۍ د نورو خلکو، نورو مسلمانانو په ګډون د مذهب لارویان دي، امام ابوحنیفه دی. ویل کېږي چې د ده ختېه له افغانستانه وه او وده یې د اسلامي خلافت په مرکز کې وکړه، وپېژندل شو، ستر شو او بیا محکوم شو. د ده د مفکورو بنسټ څه و؟ د شخصیت کومې ځانګړتیاوې یې ډېرې مهمې وې ؟

دوکتور غني: زښته ډېره مننه. په دې اوس اجماع موجوده ده چې [د] امام ابوحنیفه نیکه د افغانستان او په غالب احتمال د پروان یا کابل و، چې د جګړو په منځ کې بندي ونیول شو، بیا عراق کې، خاصتاً کوفه کې لوی شو او د اسلامي نړۍ له سترو عالمانو دی. ټولو اورېدونکو او ټولو وطنوالو ته لازمه ده چې په دې یوه شئ چې د شریعت تشکل په عمومي توګه څلور دورې لري: لومړۍ دوره یې ۱۰۰ کاله وه چې خلفای راشدین نه تر ډېره حده پورې عباسیانو پورې او د امویانو ختم پورې وه. هغه دورې کې بحث خلاص و، د مذاهبو په سلسلې باندې تحریري متون موجود نه وو، شرعي حلقې وې چې د لوړو استادانو په دورادور کې تشکیل شوې وې او خاصتاً لومړي نسلونه پس له حضرت محمد ﷺ او صحابه نه، د دوی عرف په کوفه کې یا مدینه کې یا نورو ځایو کې اصل و. امام ابو حنیفه سره لوی ګامونه چې راغلل څلور مذاهبه په اهل سنت و الجماعت کې منځته راغلل. خپله [د] امام ابو حنیفه مکتب اسلامي نړۍ کې او خاصتاً په خراسان او مرکزي آسیا کې او عثماني امپراتورۍ او د مغلو په امپراتورۍ کې رسمي مذهب باندې بدل شو او زموږ خاورې کې دا د اکثریت مذهب دی او زموږ د ژوند یوه اساسي پانګه او یوه برخه ده. دې مذهب کې زموږ

عالمانو هم ډېره برخه اخیستې او بالعکس موږ له نورو عالمانو نه. د مثال په توګه د سمرقند مکتب لس پېړۍ په دوامداره توګه سمرقند او بخارا او دې [سیمو] کې مشهور و او ځکه بخارا، په بخارای شریف باندې مشهور شو.
بله برخه ددې زښته ډېره مهمه ده، ځکه امام ابو حنیفه د رأی یا د عقل یا د فکر مسلَم استاد و.
داود جنبش: یعنې د فکر بنسټ له همده دی؟

دوکتور غني : د فکر بنسټ امام ابو حنیفه کېښود او په دې وخت کې د نورو امامانو سره، د مثال په توګه امام مالک سره او امام جعفر صادق سره دوی ډېر نږدې روابط درلودل او یو بل سره په راشه درشه کې وو، فضا همداسې وه. د ده د شخصیت یوه بله برخه دا وه چې دولتي منصب یې ونه مانه. ده ته د بغداد د قاضي‌القضات کېدو وړاندیز وشو، ویې نه مانه او په ډېر قوي احتمال بندیخانې کې حق ته ورسېده او ترکیز د امام ابو حنیفه په دې دی چې خلافت بې د شورا او د ولس له اجماع نه، مشروعیت نه لري.

داود جنبش: تاسې یادونه وکړه چې دغه امامان په هغه وخت کې په خپلو منځو کې سره ملګري وو، حتی هغه تېره خپرونه کې هم یو ځای راغلل چې دوی او پیروان به یې په یوه ځای سره کېناستل، هر چا به خپل تدریس کاوه، دا تربګنۍ وروسته را زیاتې شوې. د دې لپاره چې بحث د تفکر او د نظریاتو په همدې حدودو کې وساتو، زه غواړم د شافعي مذهب د یوه مهم استازي امام الحرمین جویني په باره کې دلته پوښتنه وکړم چې د ده ځای چېرې و؟

دوکتور غني: امام جویني، د فراه ولایت د جوین و، اما ژوند یې نیشاپور کې تېر شو. خاصتاً هغه وخت کې چې نیشاپور له غزنوي حکومت نه د سلجوقي حکومت لاس ته ورغی او سلجوقیانو نیشاپور خپل پایتخت وټاکه او له هغه نه تر اوسنۍ ترکیې او دې [سیمو] پورې دوی وده وکړله. دې دورې کې د حنفیانو او شافعیانو منځ کې په نیشاپور کې لوی بحثونه وو او یوې برخې کې امام جویني لاړ اول بغداد ته، پس له هغه نه حرمین‌الشریفین ته لاړ، کلونه یې هلته تېر کړل، پنځه کاله لرې و او ځکه په امام حرمین مسمی دی. پس له هغه نه، سره له دې چې نظام الملک خپله حنفي مذهب درلود او حنفي مدارسو ته یې ډېره لویه وده ورکړله، د نیشاپور د مدرسې مسئولیت یې ده ته وسپاره. د امام جویني فکر خاصتاً یوویشتمې پېړۍ کې بې‌حده مطرح شوی او مختلف کتابونهورباندې لیکل شوي دي چې د ده د فکر څو برخې د توجه وړ دي: لومړی، ځکه چې سیاسي وضعیت ډېر په بدلون کې و، ده دا پوښتنه مطرح کړه چې، که علما نه وي د دین دوام به څنګه راځي؟ او بل د علم له نظره یقین ته څنګه رسېږئ؟ او د ده ځواب چې اوسنۍ اسلامي نړۍ ته ډېر مهم دی، دا دی چې د دین دوام په اُمت کې دی، ځکه د اُمت هر فرد باید په خپلو عقایدو کې ټینګ اوسي او د اُمت د عقایدو ټینګوالی د دین دوام دی. او په دې اساس باندې عرف باید په عادت بدل شي، ښه عادت باندې، نه بدو عادتونو باندې، هر فرد دې خپل عرف او ټولنې ته وګوري، په دې اساس د یقین یو اساس کېښودل کېدای شي او د دې لپاره، ده د تأویل، د ژبپوهنې او تعبیر سلسله په اساسي توګه بدله کړله. اوس زموږ جنجال د مسلمانانو په حیث دا دی چې خپل تاریخ نه خبر نه یوو، ځکه همیشه مو غربي منابعو ته د علمي تحلیل [په سترګه] لیدلي دي، اما کوم شی چې نوی و او یو دوامدار بحث له امام جویني نه شروع شوی ژبپوهنه، د تحلیل اصول او د

منطق او استدلال اصول چې دا ټول امام ابو حنیفه او نورو امامانو شروع کړي وو، اما ده سره په یوه بله مرحله کې رسېږي. له سیاسي نظره، د ده بل لوی شی دا و چې ضرور نه ده چې خلیفه [له] قریشو نه وي. باید وګورئ چې د دولت دوام په څه رقم کېږي؟ نو که اساساتو ته بېرته وګورئ، نن چې زښت ډېر مسلمانان په هغو هیوادو کې ژوند کوي چې یا یې دین فرق لري یا مسلمانان په اقلیت کې دي، دې ټولو کې د دین دوام بېرته ولس ته ځي او له سیاسي نظره بیا هم، د ولس ګډون په سیاسي چارو کې یو اصل باندې بدلېږي.

داود جنبش:امیدوار استم که برای شنونده ها بسیار بحث سنگین نبوده باشد، ولی در عین حال امید من این است که شناخت مجدد این دو شخصیت متفکر میهنی یکی از پروان یا کابل و دیگری از فراه جالب بوده باشد، مخصوصاً امام الحرمین جوینی، چون امام ابو حنیفه و منشأی او تا حدی برای اکثریت مردم افغانستان شناخته شده بود. در این جا پیش از اینکه به بخش های دیگر این برنامه بگذرم، میخواهم مکث کوتاهی هم بر نظریات ابن تیمیه شخصیت متنازع‌فیه اما در عین حال خیلی نافذ، که فکر میکنم نظریاتش برای شرایط کنونی افغانستان مفید باشد و میتواند کلید حال باشد، داشته باشیم.

دوکتور غنی: از نگاه زمانی امام جوینی در سال ۴۷۸ هجری یعنی ۱۰۸۵ میلادی به حق رسید. ابن تیمیه در سال ۷۲۸ هجری یعنی ۱۳۲۸ میلادی به حق رسید. در بین این دو قرن یک حادثه عجیب رخ داد که همزمان از یک طرف جهان اسلام با حمله مغل و ختم بغداد به حیث مرکز خلافت اسلامی مواجه شد و از طرف دیگر به حملات صلیبی، که صد سال بیت‌المقدس تحت تسلط صلیبی‌ها بود و مسجد اقصی را به کلیسا بدل کرده بودند، و حتی سر مسجد دمشق، که دمشق را مستقیماً اداره نه می کردند، یک صلیب بزرگ را برای زیاده تر از ۵۰ گذاشته بودند. در این ماحول است که اهمیت ابن تیمیه آشکار می شود، از این جهت او مرحله سوم تفکر اسلامی را راجع به شریعت و راجع به تمدن اسلامی مطرح میکند. تفکیک بنیادی وی اینست که بین دوره سلف یعنی دوره پیغمبر ﷺ و خلفای راشدین و دوره خلف بعد از آن، تفکیک قایل شد. به این اساس یک انتقاد مثبت، اما سرتاسری بالای تمام ابعاد دوره دوم از طرف ابن تیمیه مطرح شده، و از این جهت اجماع وجود دارد که تقریباً تمام نهضت های اصلاح طلب در جهان اسلام به شکلی از اشکال در قرن های بعدی به افکار او دوباره مراجعه کردند. خاصهء او چند چیز بود: یکی فهم بینظر از تاریخ اسلام، دوم جرئت عجیب و سوم افاده بسیار واضح و مشخص که از نگاه منتقدین به طرف اصل مطلب میرود. و بناءً چون در این مرحله اکثریت مسلمانان در فکر این بودند که ختم دنیاست. ابن کثیر طور مثال، یکی از تاریخدانهای بسیار مهم جهان عرب است، که این دوره را ببینید یکی از تاریک‌ترین دوره هاست. نکته کلیدی ابن تیمیه این است که هیچ کس به جبر مجبور شده نمی تواند که چیزی را [اجرا] کند، جز اینکه فرمان الهی و سنت پیغمبر ﷺ باشد. دروازه اجتهاد را باز میکند و باز هم نکته اساسی او از نگاه سیاست رجعت به اصول شوراست، که شورا ضروری است تا جهان اسلام را دوباره استوار بسازد و از نگاه وسعت دادن به تحلیل علمی، از علوم زبان و کلام گرفته تا استدلال، منطق و همه اینها در چارچوب اینست که مسلمانان چگونه فرامین الهی را که در قرآن شریف درج

استند، از دل و جان بفهمند و بالای آن عمل کنند و همچنان احادیث نبوی را درک کنند. بناءً ابن تیمیه هم یک تاثیر بزرگ گذاشته و امروز تقریباً در تمام ابعاد اسلام شناسی به یک شکل یا شکل دیگری مطرح است. البته آثار خود او به انواع مختلف که انتقال داده شده بود، در گذشته بدون فهم کامل و بررسی کامل، مورد سوال است که شدت آنرا در بعض موارد که شدت علمی بود، هم سوء تعبیر شده، بناءً شخصیت متنازع است. اما تحقیقات آخر که انجام شده، یک روشنی بزرگتر سر نقش او در یک دوره بسیار مهم تاریخ اسلامی انداخته [است].

داود جنبش: مننه استاده، البته ټول اړخونه خو يې سپړل ډېر سخت دي، اما تر يوه ځايه به روښانه شوې وي چې د تمدن مرکز په ختيځ، په تېره اسلامي ختيځ کې و او همدې ته په پام سره محمود طرزي په سراج‌الاخبار کې بيا بيا د هغه چا په ځواب کې چې وايي عصري زده‌کړې ناروا دي او بايد ونه شي – هغه وخت کې هم دغسې نظريات وو، ده ورته ويلي و چې دا له موږ نه، له مسلمانانو نه ورکه شوې يوه نښه ده، موږ يې بايد بېرته ترلاسه کړو. غوښتل مې وپوښتم چې کله دغه نښه يا دغه اصول يا دغه پوهه يا دا ټکنالوژي چې کله له دوی نه ورکه شوه، له ختيځ نه، او مرکز يې لوېديځ ته ولېږدېده هلته لويې امپراتوريانې جوړې شوې او بيا د اوولسمې نه تر شلمې پېړۍ په دغه پړاو کې يوه په بلې پسې ختيځ ته را اوړدې شوې، ډېر ملتونه يې لاندې کړل. دغه را اوړدېدنې او دغو امپراتوريانو د مسلمانانو او د ختيځ د ټولو ولسونو، په روان او ځاني ويسا يا باورمندۍ باندې څه اغېز کړی؟

دوکتور غني: دا دوره واقعاً ډېره دردوونکې دوره ده، ځکه آثار يې موږ سره پاتې دي او له روحي نظره مسلمانان ډېر سخت خوږ شوي وو. که معاصر آثار ولولئ دا ټول عصر د بحران يا فتور دوره بولي او خاصتاً که د نولسمې پېړۍ ختم ته او پس له لومړۍ نړيوالې جگړې نه وگورئ، د دې په ځای چې آزادي راشي، عربه نړۍ چې ورسره انگرېزانو معامله کړې وه چې د عثماني امپراتورۍ ځای به ونيسي، دوی بيا په مستعمرې بدل شول. په دې حال کې، ځکه چې محمود طرزي مو ذکر کړ، امان الله خان چې سفر ته لاړ په هند، مصر، ترکيې يا په نورو هيوادونو کې يې، يو عظيم هرکلی وشو، ځکه هغه وخت کې چې افغانستان د خپل اساسي قانون څښتن و، مصر لا مستعمره و. نو دې امپراتوريانو يو لوی اسلامي فرهنگ مات کړ. لوی مثال يې هندوستان دی، پس ته به يې مثالونه ورکړو. فتاوی عالمگيري چې د اورنگزيب له دورې نه ده، يوه عمده منبع د فتوا ده په حنفي مذهب کې او اهل تسنن ته په عمومي توگه، اما د انگرېزانو په راتگ سره دا فرهنگ مات شو. خاصتاً ۱۸۵۷ د تغيير يوه لويه مرحله ده او ددې تاثيرات په اسلامي علومو باندې بې‌حده ډېر و. په دې معنی چې تر ۱۸۳۲ پورې که حافظه مې په ځای وي، انگرېزانو لا فارسي يا دري د رسمي ژبې په حيث استعمالوله. دري ټول هندوستان کې خپره وه، خاصتاً پنجاب او دې [سيمو] کې. اردو محدوده ژبه وه. اردو په اوسني پنجاب کې او خيبر پښتونخوا او سندھ کې يوازې انگرېزانو رواج کړله. نتيجه يې دا وه چې فارسي خپل موقعيت له لاسه ورکړ.

بله یې دا وه چې اکثریت شاګردان چې په دې مدارسو کې وو، مسلمانان نه وو، په ډېره وسیع توګه هندوان هم په کې شامل وو، او خاصتاً پنجاب کې د سواد سطحه چې ورباندې کافي معلومات لرو، له انګلستان نه جګه وه، اما بېرته ټیټه شوه.

مصر کې همدا رقم بحران راغی، ټول مغرب کې، الجزایر کې پس له دې نه چې فرانسوایانو ترلاسه کړ، مستعمره یې کړ. او مرکزي آسیا، په نولسمه پیړۍ کې روسانو زاري [څاري] امپراتورۍ تر پښو لاندې کړه، نو نتیجه د دې یو [لړ] عمومي سوالونه وو: یو دا و چې مسلمانانو په جګړو کې ماتې وخوړه، [کوم ځای] چې مسلمانانو ګټلې وه په افغانستان کې وو، دوه وارې چې هم د انګرېزانو په لومړي تیری کې، دوی مات شول او اکثر خلک په هندوستان کې د ۱۸۵۷ لوی خوځښت د دې ماتې محصول ګڼي او دویم وار یې بیا هم په ۱۸۸۰ کې ماته وخوړه او بېرته لاړل. مګر معنی یې دا نه وه، دې ته به بېرته راشوو چې د افغانستان سرحدات یې څنګه وټاکل او [څه] تاثیرات یې وکړل.

[په] عمومي توګه که د خان عبدالغفار خان د ژوند خاطرات وګورئ، ځانته په دوامداره توګه غلام وایي: «زه غلام یم!» امان الله خان سره هم چې غربېري وایي موږ غلامۍ کې یوو، خپل حق نه لرو. دغه وضعیت ته عکس‌العملونه [په] مختلفه توګه منځته راغلل او ددې دلیل شو چې هم اسلامي تعلیماتو باندې، هم سیاسي جوړښتو باندې او هم خوځښتو باندې یو بنیادي نظر وشي.

داود جنبش: تاسې د ۱۸۵۷ کال مشهور هندي پاڅون ته اشاره وکړه او دا مو هم وویل چې دا پاڅون په افغانستان کې د انګرېزانو او افغانانو په لومړۍ جګړه کې د انګرېزانو د ماتې تر اغېز لاندې وشو، خلک یې زړور کړل او د انګرېزانو خلاف راپورته شول، د هغوی واک یې ولړزاوه، هغوی یې وارخطا کړل. ښایي همدا علت وي چې د انګرېزانو په تاریخ کې دغه ته (لوی بغاوت) نوم ورکړ شوی دی. د دې پاڅون په ځینو اغېزو باندې تاسې لږ وغږېدئ، اشاره مو وکړه، همدغه مهال کې، لږ وروسته له امیر شیر علي خان سره د اختلاف له امله سید جمال الدین افغان هم مخکې له دې نه چې عربي نړۍ ته لاړ شي، هند ته لاړ دلته تم شو او دا هغه وخت و چې له پاڅون نه وروسته یوې ډلې مسلمانانو داسې یو تحریک شروع کړی و چې د انګرېز واکمنۍ پلوي ډېره ښه ده او مسلمانانو ته شکر ایستل په کار دي چې د دغسې یوه عادل پاچا په سیوري کې ژوند کوي. سید جمال الدین همدغه مهال کې خپله مشهوره رساله که څه هم کوچنۍ ده خو مشهوره ده (نیچریه) ولیکله، په دې کې یې د ماټریالیزم نظریات په عموم کې او له انګرېزانو او استعمار سره همکاري په خاص ډول، رد کړې او غندلې دي. دغه راز ستاسې اشاره باچا خان ته وه، خان عبدالغفار خان ته هم، که څه هم هغه لږ وروسته راځي خو د هغو هلو ځلو د کړۍ یوه برخه بریښي چې سید جمال الدین افغان په خپل وخت کې د استعمار خلاف په هند کې راپیل کړه، اوس مې پوښتنه دا ده چې د خان عبدالغفار خان نظریات او دریځ د نورو هندي متفکرینو له نظریاتو او دریځ سره څنګه پرتله کېدلای شي؟

دوکتور غني : اولو دوو برخې باندې راشوو، بیا به بېرته خان عبدالغفار خان ته راشوو، که موافق اوسئ؟

داودجنبش: بلې

دوکتور غني : اول هغو خلکو چې د همکارۍ لاره ونیوله لوی مثال یې سید احمد خان دی چې دې ته انگرېزانو د (سر) یا د خان یا سردار موازي لقب ورکړ. د ده د همکارۍ بېه د علي گړهـ د پوهنتون جوړول وو چې خاصتاً د پاکستان په جوړولو کې او بیا پاکستان ته د هندوستان نه د مهاجرو راتگ او د پاکستان په اولو لسو کلونو کې د هغوی لوی نقش، دا ډېر خاص اهمیت لري.

داود جنبش: زما اشاره همدې ته وه، یعنې دی د پاکستان د جوړېدو په متفکرینو او نظریه‌پردازانو کې راځي په اصطلاح.

دوکتور غني : بالکل او تاثیر یې په افغانستان کې د حبیبې د مکتب جوړول و، ځکه امیر حبیب الله خان چې ۱۹۰۶ کال کې هندوستان ته لاړ، علي گړهـ پوهنتون یې ولیده او هلته په دې یقین ورسېد چې د پوهنتون نصاب اسلامي دی. اقبال علي شاه ده ته قرائت وکړ، یو ماشوم و. دا هغه برخه ده چې موږ له علي گړهـ سره تړي او دغه مسلمان هندوستانیان لکه ډاکتر عبدالغني او نور چې راغلل او ځینې یې لومړۍ مشروطې کې شامل وو، علي گړهـ سره د ارتباطاتو یوه برخه ده.

دویمه برخه باید دیوبند ته راشوو. د دیوبند دارالعلوم منځ کې یو دریځ و، په څه معنی؟ لومړي وار لپاره دوی یو ځای کې یو دارالعلوم جوړ کړ چې ټول درسونه په یو محل کې کېدل. پخوا له دې نه سلسله دا وه چې یو طالب به لویو مولوي صاحبانو پسې مختلفو ولایتونو ته حتی مختلف ملکونو پسې تهٔ، دا یې په یو نصاب کې راوړ. او بل، نصاب یې بدل کړ، نصابِ نظامي باندې مشهور دی، اما دا له نظام الملکه نه دی، یو بل مولوي صاحب و، د مغلو په دوران کې چې دا نصاب یې جوړ کړی و او دې نصاب کې عملي علوم او نقلي علوم سره یو ځای وو. د دیوبند دارالعلوم په دې ومانه چې دا دیني دی. د دیوبند دارالعلوم په عین حال کې د صوفي سلسلو دوام دی او خاصتاً د دوو شخصیتو، یو شاه ولي‌الله دهلوي چې...

داود جنبش: د احمد شاه بابا معاصر و ؟

دوکتور غني: د احمد شاه بابا معاصر و او نه یوازې یې معاصر و، ورسره یې مکاتبې درلودې، او د ډیلي په جنگ کې احمد شاه بابا سره دی ډېر نزدې و، ځکه د اسلام دوام یې ورنه غوښته. شاه ولي الله دهلوي هغه شخصیت دی چې لومړی وار یې قرآن شریف په دري تفسیر کړ او زوی یې شاه عبدالعظیم، قرآن‌شریف په اردو باندې تفسیر کړ، نو دا یوه لویه صوفي کورنۍ ده او د صوفیانو منځ کې د لویو خاندانونو نه دی چې هم نقشبندي او هم قادریه هم چشتیه او هم سهروردیه چې څلور عمده طریقې دي، دې کې یې اجازه ورکوله، او د دیوبند مؤسسین د ده د لسمي شاه عبدالغني مریدان وو، اما دوی صوفي طریقې غوښتلې په خپلې رویې او مثل ترتیب کړي، نه په نصاب کې. او نصاب راغی

تمرکز یې وکړ په شپږو صِحه حدیثو کتابونو باندې. نو طریقه د دې ډېره مهمه ده، ځکه چې دا تفکیک د دین او دنیا په اسلام کې پخوا نه و. دا دارالعلوم دوه برخې لري، یوه برخه یې چې عمده ده، تمرکز یې په همدې غیرسیاسي برخه و او بله برخه یې چې سیاسي شوه هغه مولانا عبیدالله سندهي دی چې هغه هم افغانستان ته راغی او خاصتاً په دې باندې اخته و چې امیر حبیب الله خان ته قناعت ورکړي چې المانیانو سره یو ځای شي او د انګرېزانو په مقابل کې اقدام وکړي چې په هغه کې بریالی نه شو او بل شیخ الهند یا په نامه د شیخ د مالټا مشهور شوی و احمد حسین مدني و چې د ده مشهور لیکونه د وریښم لیکونه په نامه ډېر مشهور شول او دی یې تبعید کړ. اما اکثره سلسله د دیوبند په عملي توګه سیاسي نه وه. یوه برخه یې خپله نصاب و، بله برخه د دې تبلیغي جماعت و. تبلیغي جماعت د دې باعث شو چې دا ډېره لویه پراختیا پیدا کړي. د دې اساس مولانا الیاس او پس له هغه نه مولانا ذکریا کېښود او دغه وو چې تر جنوبي افریقې پورې او اوس امریکې او انګلستان او دې [هیوادونو] کې د دیوبند دا برخه خپره شوې ده. نتیجه یې چې پاکستان ته راشئ، د دیوبند اکثریت علما د پاکستان د نظریې مخالف وو، یوازینی شخصیت چې دوی کې ډېر مهم و او د پاکستان پلوی و، مولانا شبیر عثماني نومېده چې د عثمانیه دارالعلوم بنیاد یې کېښود او مولوي تقي او نقي عثمانیان د ده دوه زامن وو، یو یې حق ته ورسېده چې مفتي اعظم د پاکستان و او بل یې لا ژوندی دی، استاد دی. فتواګانې یې ورکړلې چې ځانمرګي روا ده. چې پاکستان جوړ شو یوازې ۵۴ مدرسې ټول غربي پاکستان کې وې...

داود جنبش: د حقانیه مدرسې سمیع الحق پلار هم فکر کوم...

دوکتور غني: هو

داود جنبش: ...له هماغه ځای نه وتلی.

دوکتور غني: هو د سمیع الحق پلار هم له دیوبند نه وتلی، اما باید پوه شوو کوم نصاب او کومه تګلاره او کوم تعبیر چې د اصلي دیوبند مدرسې کې په هندوستان کې موجود دی او کوم چې حقانیه مدرسې د اکوړه خټک کې دی، دا سره ډېر توپیر لري او دا مه هیروئ چې د اکوړه خټک د مدرسې له موسسینو [یو] اجمل خټک و.

داود جنبش: اجمل خټک! د اکوړې [مدرسې] په جوړولو کې هغه ونډه درلوده؟

دوکتور غني : ونډه [یې] درلوده، دا د اجمل خټک په خاطراتو کې وګورئ دا شته، دا بېرته باچا خان باندې هم تړل کېږي. د خان عبدالغفار خان یو حرکت دا و چې د اسلامي مدرسو سلسله یې ترلاسه کړله او خپل دواړه زامن، عبدالغني خان مشر زوی یې او عبدالولي خان کشری زوی یې، دواړه یې راوړل په دې مدرسې کې یې واچول.

داود جنبش: هو، د ده تعلیم د مدرسو د لارې عامېده.

دوکتور غني : د دې مدرسو د لارو نه [و] اما عجیبه یې په څه کې ده؟ [دا] لومړۍ مدرسه وه چې ژبه یې پښتو وه. دویم، نصاب درې برخې درلودې: یو اسلامي متون وو چې ټول په هغه کې تربیه کېدل او روزل کېدل. دویمه برخه د

دې معاصر علوم وو، اما درېيمه برخه ددې چې ټولو نه په زړه پورې ده، فني تدرسيات وو. يعنې مسلکي تدريسات، غفار خان يې اساس کېښود. ځکه ده ويل چې خلک بايد پوه شي او همدې لپاره عبدالغني خان يې ولېږه چې د ګنيو کار باندې په عملي توګه پوه شي چې ګنيو نه څنګه بوره جوړه کړي. او دا بدلېږي په يوه عظيم حرکت باندې چې د پښتنو ځوانانو حرکت دی او دا هم ېېرته بيا تړل کېږي ځوانو ترکانو سره، «جديد» حرکت سره په مرکزي آسيا کې او بالاخره په افغانستان کې مشروطې کې همزمان، او هم ويښ زلميانو سره.

داود جنبش: چون آمديم بر بخش تدريسی و مدارس و اينها، کوتاه اگر بر جامعهء ازهر هم يک نظر داشته باشيم، چون وقتيکه در باره تعليم اسلامي و مراکز تعليم اسلامي صحبت ميکنيم ازهر را از نظر انداخته نمی توانيم .

دوکتور غني: دارالعلوم ازهر يا پوهنتون ازهر يکی از قديمی ترين پوهنتونهای جهان است. يک نظريه موجود است که بايد تثبيت شود که مثال پوهنتون های اروپا را تشکيل داده باشد.اين در دوران خلافت فاطمی در مصر ايجاد شد و دوامدار است، اما معلومدار، بعد از سقوط امپراتوری فاطمی از اصل تدريس مذهب تشيع به تسنن گشت. قبل از اينکه نکات ديگرش را ذکر کنيم، يکی از تاثيرات عمده خلافت فاطمی در مصر تعيين ناصر خسرو به حيث مبلغ بزرگ خراسان است و در آن دوران وقتی که او به مصر سفر کرد، سفر به مصر در دوران خلافت عباسی منع بود، بنابر اين وقتيکه او پس برای تبليغ گذشت در بلخ فعال شد، اما از بلخ تبعيد شد به بدخشان و در بدخشان به حق رسيد، مزارش در يمگان، يکی از مراکز توجه اسماعيله ماست. اسماعيله افغانستان نتيجه تبليغات ناصر خسرو و اراکين ديگر اين دوره است. ناصر خسرو در عين حال يک سفر نامه را به جای گذاشته که يکی از آثار بسيار مهم است، علاوه بر اشعارش ... و در اشعار خود هميشه از تبعيد در بدخشان شکايت دارد. ازهر مرکز توجه سلاطين ايوبی، خاصتاً قهرمان دنيای اسلام و عرب صلاح الدين ايوبی است و سلسله ييکه بعد از آن به وجود آمد و اکثر آنها غلام هايی بودند که بعداً قدرت را به دست گرفتند، اکثر اين ها، قسمت اول تُرک بودند بعد از اين از البانيا و اين ها آمدند، تا که مصر توسط امپراتوری عثمانی فتح شد. در قرن نوزده يکی از مهمترين نقاط آن معلومدار، ارتباط سيد جمال الدين افغانی با شيخ عبده است که هم مفتی مصر بود و هم در يک دوره، مسؤليت ازهر را به دوش داشت. نقطه يی را که قرن نوزده مصر نشان ميدهد، بحران در تدريسات است و افراد مهمی که ظهور کردند مثل طه حسين واری که يکی از مهمترين نويسندهگان دنيای عرب و خاصتاً از مصر است، شکايت اينها از تدريس مدرسه به اين دليل بود که مدرسه مبدل شده بود تنها بر تبصره حاشيه بر حاشيه بر حاشيه. متون اصلی بدبختانه وجود نداشت و در مدرسه ديوبند هم عين وضعيت بود. کمبود متون محصلين را و معلمين را از دوره های طلايی تشکيل مذاهب و بحث بسيار آزاد و فراخی که وجود داشت، قطع کرده بود. در دوره معاصر، ما دوباره احياء جامعه ازهر را می بينيم. شخصيت های زيادی از الازهر فارغ التحصيل شده اند. مرحوم موسی شفيق يکی از برجستهترين اينهاست، که در ايجاد قانون جزا و قانون مدنی، متخصصين زياد را از الازهر آوردند و پوهنځی شرعيات ما توأميت اصلی اش با پوهنتون الازهر بود و شخصيت های بزرگ جهادی فارغ التحصيل اين بودند و تاثيرات آن به صورت دوامدار از نگاه ارتباطات وجود داشته است.

بنابر این هم دوره بحران آن مهم است و هم دوره ایجاد فکر جدید، و فعلاً یک حرکت اساسی برای مرور دوباره به متون اصلی جریان دارد و نتایج آن شاید در آینده تاثیرات زیاد داشته باشد.

داود جنبش: چې بېرته له افغانستان سره یو ډول رابطه ورکړو، تاسې په یوه تېره خپرونه کې وویل چې انګرېزانو د دویم جنګ نه وروسته افغانانو سره، عملاً غوښتل چې افغانستان تجزیه کړي، خو د میوند په جګړه کې ماته د ایوب خان د لښکرو په وړاندې د دوی د دې سبب شوه چې دغه پلان یې ناکامه شي. بیا چې کله امیر عبدالرحمن خان واکمن شو په دغه وخت کې، د ده ټول تمرکز په دې و چې یو پیاوړی مرکزي حکومت جوړ کړي. که څه هم د ده او دیني علماوو ترمنځ یوه عجیبه نازکه رابطه موجوده وه، په هغې به نه غږېږو خو علماوو له ده سره د دغه مرکزي پیاوړي حکومت په جوړولو کې څه ونډه درلوده؟ مرسته یې کوله که تخریب یې کاوه؟

دوکتور غني: دوه برخې لري: یوه برخه د مرستې ده، خاصتاً دلته د یو عظیم عالم ذکر باید وشي چې مولوي احمد جان خان الکوزی نومېده. مولوي احمد جان خان الکوزي دوه اصول پرېښودل: یو، کتاب اساس القضات نومېږي چې د قاضیانو وظایف یې ټاکلي دي او بل یې دستورالعمل د حکام دی. دغو دوو کتابونو د افغانستان د مرکزي ادارې اصول پرېښودل او بې حده مهم دي. قضا مرکزي شوله. ما یوه مقاله ۴۰ کاله مخکې یا ۴۲ کاله مخکې په دې باندې لیکلې او عجیبه ده، ځکه ستاسو په ارتباط باندې چې د کونړ د محکمې د پنځو کلو اسناد وو، ځکه، مخکې له هغه نه په دې متونو باندې نه پوهېدل، اما دویم، فکر یې کاوه چې دا یوازې په کاغذ باندې وو، بالعکس هغې دورې کې ټول شرعي احکام، د مثال په توګه د میراث په برخه کې، عملي شول او محکمې کې ښځې حضور درلوده، دعوا یې کولای شوه او د قاضي په حضور کې د هندو او مسلمان تفکیک نه و. اما له ټولو نه مهمه یې دا وه چې قاضي ددې حق نه درلوده چې له خپل کوره یا جومات نه فیصله وکړي، یوازې د قضا له دفتر نه یې فیصله کوله. او حاکم د دې حق نه درلود چې د قاضي په کار کې مداخله وکړي. او همدارنګه سلسله وه چې ټولې فیصلې د قاضیانو چې کېدلې، بیا به په مراتبو باندې تللې تر کابله پورې او دې باندې تجدید نظر کېده. دا یو اساس و چې ډېره مهمه برخه ده.

بله برخه معلومدار دا وه چې خاصتاً د تضاد له نظر نه، ملا مشک عالم سره عبدالرحمن خان په تضاد کې راغی. ملا مشک عالم د افغانستان هغه لوی علمي او عرفاني شخصیت و چې د امیر شېر علي خان خارجې وزیر به د بالاحصار تر ښکته ورتهّ، او د ده د آس جلب به یې نیوه چې د امیر حضور ته یې را وړي. محمد جان خان وردګ سره د ملا مشک عالم له مرستې پرته، د دې احتمال ډېر لږ و چې انګرېزان کابل تخلیه کړي. په هر حال، د ده د زوی، که زما حافظه په ځای وي، ملا عبدالکریم نومېده، تر نظر لاندې د غلځیو لوی پاڅون وشو او د هغه په نتیجې کې هغه کورنۍ ماته شوه. له بلې خوا نه یې مناسبات ملا نجم‌الدین سره وو چې پس ته د هډې ملا صاحب په نامه مشهور شو، او هلته ډېره دلچسپه ده ځکه چې ملا نجم الدین لاړ قبایلي مناطقو کې یې...

داود جنبش: امیر عبدالرحمن خان نه وتښتېده، په اصطلاح هغه تبعید کړ.

دوکتور غني: وتښتېده، اما د جهاد اجازه یې له ده نه وغوښته، ځکه چې بې د امیرالمؤمنین له اجازې نه، ده ځان ددې [وړ] نه باله چې جهاد وکړي. ځکه چې وتښتېده هم په دا [دلیل] و چې یو د ده له شاگردانو [یوهٔ ]ویلي وو چې که عبدالرحمن خان مې په لاس راشي، سترگې به یې ړندې کړم او امیر عبدالرحمن خان یوه ډېره سخته د جاسوسي شبکه درلوده. نو دوو برخو ته چې لاړ شوو: یو، امیر عبدالرحمن خان په ټول افغانستان کې شرعي اصول عملي کړل، بلې خوا نه یې بد میراث دا و چې د هزاره‌گانو د تکفیر حکم یې صادر کړ او دا هغه سلسله ده چې له بدې مرغې تر اوسه پورې یې ډېر وخیم نتایج دي. بیا که د حبیب الله خان او امان الله خان په دورې کې راشئ، بیا روابط بدلېږي هغې باندې نورې تبصرې کولای شوو .

داود جنبش : و کوتاه، البته این برنامه کمی طولانی هم شد، ولی یکی دو سوال مهم مانده که اینرا می پرسم. شما قبلاً در حالی از قانون اساسی در افغانستان صحبت کردید که بسیاری از کشور های عرب و حتی کشور هایی که حالا پیشرفته استند، یا مستعمره بودند یا قوانین خود را نداشتند. هر چند من میفهمم که قانون اساسی ۱۳۴۳ را موسی شفیق از فارغان ازهر و پدر اونها مولوی ابراهیم کاموی، اینها نقش بسیار عمده ای را در [آن، در] کنار سائرین داشتند. در اولین قانون اساسی افغانستان نقش علما چه بود؟ و اصلاً آنرا که طرح کرد؟ که تسوید کرد؟ و چگونه تصویب شد؟

دوکتور غني: بی حد مهم بود، اما قبل از این، دو متن دیگر را من خدمت تان ذکر میکنم که مهم است. یک، در دوران حبیب الله خان تمام منابع عمده فقه حنفی در پنج جلد به نام «سراج‌الاحکام» یک جا شد، و در دوران امان الله خان آن مجموعه از طرف یک گروپ علمایی که در حدود ده تا بیست نفر بودند، تهیه شد. بعد از آن، تمام اینها به صورت ماده وار خلاصه شد در دو جلد، سر حقوق و سر جزا بنام تمسک القضاة. علما در ایجاد قانون اساسی افغانستان نقش عمده و اساسی داشتند. هر ماده آن از طرف اینها تصویب شده بوده و سه بخش بود: یکی بخش علمای افغانستان که خاصتاً علمای قندهار و کابل – مولوی صاحب عبدالواسع، مولوی صاحب عبدالروف وغیره... که مولوی صاحب عبدالروف آثارش را شما در سراج الاخبار همرایش آشنا استید، نقش عمده داشتند. دوم علمای هندوستان بودند، که اینها هم در تماس بودند؛ و سوم، یک قسمت از علمای عثمانی یا بعد از آن ترکیه بودند. یک مشاور غربی در این سلسله وجود نداشت، نه به ایشان مراجعه شده بود و نه از پیش شان الهام گرفته شده بود. یکی از منابع الهام معلومدار، قانون اساسی ترکیه بود که از طرف ترک‌های جوان عثمانی تهیه شده بود و در این بخش محمود طرزی عضویت داشت، که محمود طرزی در دمشق در این حلقه ها شامل بود و در مرحله بعدی آن، محمود طرزی موجب این شد که جمال پاشا، یکی از کلانترین قوماندان‌ها و یکی از چهار تنی که حکومت ترکیه را اداره می کردند، به حیث مشاور به افغانستان بیاید و یک قسمت پیشنهادات در ایجاد بانک، سلسله خط آهن و تغییرات دیگر در افغانستان تهیه شد. اما قانون اساسی ما مطلق نتیجه یک تفکر علمای معاصر ما با همکاری علمای هند و علمای عثمانی بود.

داود جنبش: ښه، اوس به راشو دې ته چې ختیځه آسیا، هند دوی هم تقریباً له ورته بهیرونو نه تېر شوي، ډېر یې استعمار ځپلي دي، خو عقدې یې خپلې پرېښودې، اوس گورو چې په نوې روحیه سره مخ په وړاندې روان دي او په مهمو قدرتونو بدلېږي، مسلمانانو ته د هغوی تجربه څنگه گټوره پرېوتلی شي؟

دوکتور غني : مسلمانانو ته لومړۍ خبره په دې کې ده چې بېرته خپل تمدن سره آشنا شي، موږ پردي شوي یوو. دا عمده اشخاص چې ما تاسې ته ذکر کړل، د افغانستان په داخل کې [یې لږ خلک پېژني]، د مثال په توگه ما چې د پوهنتون د ریاست شرفِ خدمت درلوده، د شرعیاتو پوهنځي کې یو داسې استاد نه و چې مولوي احمد جان خان الکوزی یا مولوي عبدالواسع یا مجموعه د سراج‌الاحکام باندې پوه وي. ابن خلدون او ابوریحان خو پرېږدئ، د حنفي مذهب په عمده شخصیتونو باندې پوه نه وو او دا یوازینی پوهنځی و چې تداوم یې هم درلوده. که نن نړۍ کې اکثر مسلمانو ځوانانو نه پوښتنه وکړئ، غربي متفکرینو ته مراجعه کوي. زموږ تمدن هېر شوی، او بېرته مو باید تاریخي حافظه وگرځوو، دا یې یوه برخه ده.

دویم، په دې باندې باید پوه شوو چې زموږ اسلامي تمدن په ځان باندې باور درلوده او عظیم باور یې درلوده، ځکه ټول پخواني ادیان یې، خاصتاً یهودیت، عیسویت او نور پیغمبران چې په قرآن شریف کې ذکر شوي دي، له حضرت آدم نه تر پیغمبر د آخر زمانه، خپله برخه یې درلوده، دوی یې مسلمانان گڼل او په تمدنو کې هم عین رقم فکر و. د چین تمدن ته، روم و یونان تمدن ته، پارس تمدن ته یا د هند تمدن ته یې په قدر کتل او بهترین یې [ترې] اخیستل. ضروري ده چې نن له یوې خوا نه په خپلو ریښو باندې پوه شوو او له بلې خوا نه پوه شوو چې په اوسنۍ نړۍ کې که غواړو مخکې لاړ شوو، څه رقم نصاب باید ولرو؟ څه رقم باید اقدامات وکړو؟ څه مو په کار دي؟

ما د کابل پوهنتون نه شروع کړې وه او په دوامداره توگه د ولسمشرۍ په دوران کې ما ویلې چې زما یوازې انجنیر په کار نه دی، زما افغان انجنیر په کار دی او مسلمان انجنیر مې په کار دی او همدارقم ډاکټر. ځکه بې له دې نه چې مشترکې پانگې باندې باورمند اوسو، مخکې نه شوو تلای.

بل، زه فکر کوم چې د اسلامي تفکر پنځمه دوره واقعاً په راتگ کې ده. ځکه اسلام پېژندنه په بنیادي توگه په دې شلو کالو کې بدله شوې. ما په دې دوه نیمو کالو کې زښت ډېر آثار ولوستل او ډېر خوښ شوم. ځکه لومړی وار دی چې مسلمان او عرب عالمان چې په ژبې باندې پوهېږي، لومړني متون لوستی شي او ټول د ژبې په رموزو او د دې لویو عالمانو په اصول د تشریح او دې باندې پوهېږي، په بین‌المللي ژبو هم لیکنې کولای شي او کومه عقده نه لري، دغه لازمي ده. او افغانستان کې باید دې باندې هم په واقعي توگه راشوو. نن تر ۲۰۴۷ [د معاصر افغانستان ۳۰۰مې کالیزې] پورې څنگه د اسلام تعبیر کوو؟ څنگه خپل مذهب باندې پوهېږو ؟ آیا محدود عکس‌العملونه چې د هند د استعمار په مقابل کې شوي، د هغه په چوکاټ کې موږ مخته ځو؟ د عقدو چې د پاکستان په ټولنې او خاصتاً مذهبي ټولنې کې دي، په هغو باندې مخکې ځو؟ یا خپله تگلاره په ډېره اساسي توگه په دې درک سره چې اسلام زموږ یوه عظیمه پانگه

ده، تمدني پانگه مو ده، زموږ د ملي وحدت يو لوی اساس دی چې ټول مو سره ټولوي، په دې اساس باندې ځو؟ دغه يې نتيجه گيري ده.

چين په ډېر افتخار سره کنفسيوس ښېرته ژوندی کړ. هند په خپل لرغوني تمدن باندې فکر کوي. زما ټول کوښښ دا و چې د مدرسې او مکتب تضاد لرې کړم، جومات او مکتب سره وتړم. اسلامي تمدن د سياسي فلسفې له نظره ولسواکي ده، ځکه کله چې وايئ چې شورا او اجماع، بايد وگورئ چې د دين ساتونکی ښېرته هر مسلمان دی، او آيا په قرآن شريف کې بار بار نه دي راغلي چې وايي، د قيامت په ورځ به هر فرد ځواب ورکوي، په هغه ورځ نه خور ده، نه مور ده، نه ورور دی، نه پلار دی او نه قبيله ده، او د دې معنی څه ده؟ عقل [بايد] په بنديتوب کې نه وي، بايد عقل په کار واچوو، ځکه چې زموږ اساسات د شرعې، د فقه، د اصولو په دې باندې دي چې څنگه د خدای ﷻ په اوامرو باندې او د حضرت محمد ﷺ په سنتو باندې يوه ټولنه او تمدن ايجاد کړو. په دې لارې باندې بيا خپله تگلاره پيدا کولای شوو او دې کې ټکنالوجي او دا نور شيان وسيلې دي، او وسيله او هدف سره مه ترئ چې دا اسلامي دي او دا نه دي.

داود جنبش: ډېره مننه استاده، فکر کوم چې جمع بندي وشوه او بلې خپرونې ته چې زما هدف و اصلي، او هغه د بشري پانگې ماهيت او څرنگوالی دی، هغې ته يوه ډېره ښه لاره جوړه شوه، بله خپرونه به په دې ولرو، دا به په همدې ځای باندې ختمه کړو، بسيار تشکر رئيس جمهور محمد اشرف غنی از حضور تان در اين برنامه ها، اين شماره را در همين جا به پايان می بريم.

دوکتور غني: تشکر نهايت زياد از جناب شما و تمام شنونده ها. يکی از خواهشات من به نسل جوان ما اين است که واقعاً خود را آشنا بسازيد، يک سرمايه عظيم داريد و امروز خوشبختی اينست که با موجوديت انترنت و وسايل مواصلاتی، کاری را که من در تحقيقاتم وقتی سر طبقات صوفيه يا تاريخ شريعت يا اين ها انجام می دادم ۳۰ سال پيش يا ۴۰ سال پيش، که ماه ها می گرفت، امروز در ساعت ها انجام داده می توانيد.

په خير اوسئ. تل دې وي افغانستان، يشه سن افغانستان، زنده باد افغانستان .